# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

# خبرپاڼه خبر نامه

6میزان _سال 1402





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

دخواشینی او خواخوږی پیغام ---------------------------------------------------------------------- 1
تولنیز عزت او پرمختګ د قومونو په یووالي کې دی ----------------------------------------------------- 2
برای 24 خانواده در ولایت بلخ وسایل صابون سازی توزیع شد------------------------------------------ 2
لسګونه افغان مهاجر د پاکستان له زندانونو آزاد شول ---------------------------------------------------- 2
بیش از 200 تن در ولایت پروان کمک نقدی شد ------------------------------------------------------ 3
آلمان کنترول مرزی با پولند و چک را تشدید می‌کند ------------------------------------------------------ 4
برورمن د کډوالو لپاره د م.م. د کنوانسیون رول تر پوښتنې لاندې راوست ------------------------------- 5
د اروپايي پارلمان رئیسه د پناه غوښتنې د اصلاحاتو لپاره زیاتي هلې ځلې غواړي -------------------------- 6
بلغاریا: د کډوالو لېږدوونکي موټر له یوې ټکسي سره ټکر شوی -------------------------------------------- 7
پاکستان بیش از یک میلیون پناهجوی غیرقانونی افغان را اخراج می‌کند ----------------------------------- 8

# متن کامل اخبار

## دخواشینی او خواخوږۍ پیغام

د وزارت ویب سایت



په ډېرې خواشینی سره مو خبر ترلاسه کړ، چې د هېواد پېژندل شوی مشر، جهادي شخصیت، زما او د مولوي صاحب خالص ـ رحمه الله ـ د تېرو جهادونو ملګری، د سولې کاروان برجسته غړی، د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي کادرونو راستنولو رئیس خدای بښلی قاري صاحب الهام الدین د ور پیښنی ناروغی له امله له دې فاني نړی څخه سترګې پټې کړې.

مرحوم قاري صاحب د دې ترڅنګ، چې یو ښه قاري او عالم و، د تېر او اوسني جهاد یوه مخکښه څېره وه، نوموړی د هجرت په دیار کې د مهاجرینو د ستونزو د حل د شورا یو برجسته غړی و او د مهاجرینو د هوساینې له پاره یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې
د اسلامي امارت له بریا مخکې او وروسته نوموړي د سولې او پخلاینې په برخه کې له مونږ سره نه هېرېدونکې هڅې کړي د مرحوم د هلو ځلو له کبله زرګونو تنو جنګ ته نه وویل او د زرګونو انسانانو .

ژوند وژغورل شو نوموړي هېواد او خلکو ته د یوه ریښتیني خدمتګار په توګه په بېلا بېلو برخو کې نه ستړي کېدونکي خدمتونه کړي، چې نوم به یې تل دخلکو او ولسونو ترمنځ ژوندی وي.

زه د هغه له درنې کورنی سره په دې سترغم کې خان شریک بولم او ارواښاد ته د لوی خدای ـ جل جلاله ـ له دربار څخه د مغفرت او جنت غوښتنه کوم، الله پاک دې د ده کورنی له نورو غمونو څخه وساتي.

اناالله واناالیه راجعون

د مهاجرینو او راستنپدونکو چارو سرپرست وزیر

الحاج خلیل الرحمن حقاني

## تولنیز عزت او پرمختګ د قومونو په یووالي کې دی

دا خبره د مهاجرینو او راستنپدونکو چارو وزارت سرپرست د قومي مشر حاجي علي جان د جنازې په مراسمو کې وکړه

ښاغلي حقاني په خپله وینا کې قومونه اتفاق او یووالي ته را وبلل، د هېواد او اسلامي نظام له پاره یې د مرحوم حاجي علي جان قربانی وستایلې او د لوی الله - جل جلاله - له درباره یې ورته د جنتونو غوښتنه وکړه.

## برای 24 خانواده در ولایت بلخ وسایل صابون سازی توزیع شد

ویب سایت وزارت



**ریاست مهاجرین ولایت بلخ از توزیع وسایل صابون سازی برای 24 خانواده درآن ولایت به تاریخ 4 میزان خبرداد.**

**خانواده های یاد شده قبلا درعرصه تولید صابون آموزش  فنی را فرا گرفته بودند و برای هر خانواده، به ارزش 21 هزارو 400 افغانی، 22 قلم وسایل صابون سازی به  همکاری موسسه پکو با حضور نماینده ریاست مهاجرین در شهرک همدرد توزیع گردید.**

## لسګونه افغان مهاجر د پاکستان له زندانونو آزاد شول

د وزارت ویب سایت



۶۰ تنه افغان مهاجرین، چې د پاکستان په کراچۍ زندان کې بندیان ول، له بنده آزاد او د تلې په ۴مه هېواد ته راستانه شول.

د قندهار ولایت د سپین بولدک د مهاجرینو چارو آمریت د معلوماتو له مخې  یاد کسان د قانوني اسنادو د نه لرلو له امله ۴ میاشتې په بند کې وو، چې له آزادېدو ورسته د سپین بولدک له لارې هېواد ته ستانه او د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول.

## بیش از 200 تن در ولایت پروان کمک نقدی شد

ویب سایت وزارت




برای **231** نفرکارگر در ولایت پروان به تاریخ **5** میزان، کمک نقدی توزیع شد.

برای هریک از افراد یاد شده که از طرف اداره امور مهاجرین پروان درهماهنگی با دفترانجمن مهاجرین دنمارک، جهت پاک کاری کانال پارچه ۱۲ شهر چاریکار توظیف شده بودند مبلغ **7** هزار و **200** افغانی در مقابل یک ماه کار ازطرف دفتر انجمن مذکور توزیع گردید.

## آلمان کنترول مرزی با پولند و چک را تشدید می‌کند

مهاجرنیوز

به دلیل افزایش قاچاق مهاجران از مرزهای پولند و جمهوری چک به آلمان، وزارت داخله این کشور تدابیر تازه‌ای را اعلام کرده است. بعد از این قرار است پولیس فدرال کنترول سیار در نقاط مختلف مرزی انجام دهد .

نانسی فنزر، وزیر داخله آلمان می خواهد با تشدید کنترول پولیس در مرزهای این کشور با پولند و جمهوری چک علیه قاچاقبران انسان مبارزه کند.

وزارت داخله آلمان روز چهارشنبه اعلام کرده است که فنزر دستور کنترول انعطاف پذیر نقاط مهم مرزی توسط پولیس فدرال را داده است که تکمیل کننده کنترول های موردی کنونی است.

روز دوشنبه سخنگوی وزارت داخله آلمان اعلام کرده بود که در تماس با جوانب پولندی و چکی امکان کنترول ثابت مرزی و کنترول مشترک در دو طرف مرز نیز مورد بررسی قرار خواهد گرفت.

بر اساس این معلومات، کنترول مرزی جدید که دستورش از سوی فنزر صادر شده است، با توجه به وضعیت در زمان ها و مکان های متفاوت در امتداد مسیر فعالیت قاچاقبران انسان انجام خواهد شد.

فئزر گفته است: «ما باید تجارت بی رحمانه قاچاقبران را متوقف کنیم که جان انسان ها را برای حداکثر سود در معرض خطر قرار می دهند«.

وزیر داخله آلمان افزوده است که هدف تشدید کنترول مرزی وارد شدن حداکثر فشار بر قاچاقبران و حفاظت از انسان هایی است که اغلباَ بدون آب و در موترهای بدون اکسیجن کافی از مرز قاچاق می گردند.

این وزارت همچنان اعلام کرده است که در حال حاضر یک چهارم ورود بدون مجوز اتباع کشورهای ثالث به آلمان از طریق قاچاق صورت می گیرد.

تعداد این افراد در سال روان میلادی تا آخر ماه آگست بیش از ۲۰ هزار و ۳۰۰ تن بوده است. اکثریت این افراد از کشورهای سوریه، افغانستان، ترکیه و عراق بوده اند.

## بروورمن د کډوالو لپاره د م.م. د کنوانسیون رول تر پوښتنې لاندې راوست

مهاجرنیوز

د بریتانیې د کورنیو چارو وزیرې، سویلا بروورمن د سه شنبې په ورځ په واشنګټن کې په یوه فکري خونې کې د کلیدي وینا په ترڅ کې پوښتنه وکړه چې ایا د ملګرو ملتونو د کډوالو کنوانسیون «زموږ د اوسني عصر لپاره مناسب دی؟».

سویلا بروورمن په واشنګټن کې د امریکن انترپریس انستیټیوټ په نوم فکري خونې غونډې ته وینا واوروله. یاده فکر خونه پر دې غور کوي چې د مهاجرت د نړیوال بحران په تړاو باید څه ډول نړیوال پلان رامینځته کړل شي. دا هغه موضوع ده چې بروورمن په خپل هیواد کې دننه هم ورسره مخامخ ده.

د بریتانیې د کورنیو چارو وزیرې بروورمن د ۱۹۵۱ کال د کډوالو کنوانسیون کوم چې په قانوني توګه د کډوال یا مهاجر تعریف کوي، « د خپل وخت یوه نه هیریدونکې لاسته راوړنه» وباله. خو هغې زیاته کړه چې د دغه کنوانسیون د منل کېدنې اوس تر ۷۰ کالو څخه زیات وخت تېر شوی او په وینا یې «موږ اوس په بالکل بل شانته وخت کې ژوند کوو.» د هغې په وینا د یوې نوې څېړنې له مخې د یاد کنوانسیون د تعریف له مخې «دمګړی ۷۸۰ ملیون انسانان د دې ممکنه حق لري چې بل هیواد ته حرکت وکړي«.

هغې وویل: «له همدې کبله دا اوس د سیاستوالو او مشرانو مسؤلیت دی چې وپوښتي چې ایا د کډوالو کنوانسیون، او څنګه چې یې زموږ په محکمو کې تعبیر اخیستل کیږي د اوسني پېر سره همږغی دی که نه، او که پکښې اصلاحاتو ته اړتیا شته«.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

بروږمن وویل چې لوېدیځ هیوادونه به ونه کولای شي چې د پناه غوښتنې داسي نظام وساتي «چې صرف د هم جنسباز کېدل، مېرمني کېدل او یا په خپل هیواد کې د تبعیض څخه وېره لرل پکښني کفایت کوي چې یو کس د محافظت حق ترلاسه کړي.» هغې زیاته کړه: «موږ په یوه داسي نوې نړۍ کې ژوند کوو چې پکښني له مادېل څخه تېر شوي قوانین رایج دي».

د کډوالو او مهاجرو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان (UNHCR) ویلي دي چې د کډوالو لپاره د م.م. کنوانسیون اوس هم د ژوند ژغورني لپاره یو مهم نړیوال اوزار دی. د دغه سازمان په وینا دغه کنوانسیون نن هم مطرح او اړین دی. په وینا یې دغه کنوانسیون د غیر اصولي مهاجرت د ننګونو لپاره هم یو مهم چوکاټ دی .

## د اروپايي پارلمان رئیسه د پناه غوښتني د اصلاحاتو لپاره زیاتي هلي ځلي غواړي

مهاجرنیوز

د اروپايي اتحادیې د پارلمان رئیسې، روبېرتا میتسولا د دغې اتحادیې د غړو هیوادونو پر حکومتونو ږغ کړی دی چې د پناه غوښتني د نظام په اصلاحاتو کې جوړجاړي ته زیات چمتو والی وښيي.

روبېرتا میتسولا د غړو هیوادونو له حکومتونو څخه غوښتي دي چې د دغې اتحادیې لپاره د مشترک پناه غوښتني د نظام د اصلاحاتو لپاره خبرو اترو کې جوړ جاړي ته زیات چمتو والی وښيي. د مالتا هیواد دغې سیاستوالې د آلمان د خبري آژانس او نورو رسنیو سره په خبرو کې غوښتي دي چې د پناه غوښتني د مشترک نظام د اصلاحاتو لپاره باید چې لا زیاتي هلي ځلي وشي. په وینا یې د بندبنت اوسنی حالت باید بدل شي او باید په دغه موضوع کې پرمختګ وشي. دغه څرګندوني یې په اروپايي خبر خونه کې کړي دي.

میتسولا د آلمان د دریځ په هکله ویلي چې نه غواړي د واحدو غړو هیوادونو په هکله خبرې وکړي. په وینا یې داسي هیوادونه به وي چې نوې اصول منل غواړي. هغې وویل چې دا کومه نوې خبره نه ده او دا چې په اصل کې باید په دغه موضوع کې اکثریتونه رامنځته شي. د اروپايي اتحادیې د پارلمان دغې رئیسې زیاته کړه چې هیله لري راتلونکي اونۍ به دا موضوع حل شي.

د اروپايي اتحادیې غړي هیوادونه دمګړی د پناه غوښتني د مشترک نظام د اصلاحاتو په هکله خبرې اترې کوي. له وړاندیز شوو اصولو څخه پر هغه برخه باندې تاوده جر و بحث کېږي چې د بېړني اصولو سره تړلې ده. د آلمان حکومت په جولای میاشت کې نه غوښتل چې د اروپايي اتحادیې د شورا د هسپانوي مشرتابه هغه وړاندیز ومني چې د بېړني اصولو په ترڅ سره تړلی و. له همدې کبله د اروپايي اتحادیې غړي هیوادونه ونه کولای شوای چې د اروپايي اتحادیې په پارلمان کې په دې هکله خپل دریځ ونیسي. برلین په بروکسل کې د خپل دغه دریځ څخه په دفاع کې ویلي وو چې که وړاندیز شوي اصول ومنل شي نو دا به د دغو انسانانو د ساتني د معیارونو د زښت زیات او د نه منلو وړ توګه راټیټېدو لامل شي .

اروپايي پارلمان تېره اونۍ د پناه غوښتنې د نظام د اصلاحاتو پر نورو برخو د بحث کولو څخه ډډه وکړه او ويل یې تر هغه به دغه نورې برخې هم بلاک کړي تر څو چې د پاتو برخو موضوع نه وي حل شوې. دغه موضوع له دې کبله هم مهمه ده ولي چې د ۲۰۲۴ کال په جون میاشته کې اروپا کې ټاکنې تر سره کېږي. که تر دغه وخت پورې د غړو هیوادونو سره پلان شوې پروژې حل و فصل نشي نو ښايي بيا تر سوال لاندې راشي او د اوږد وخت لپاره تعليق ته ولوېږي. که د پناه غوښتنې د نظام د اصلاحاتو دغه پروژه ناکامه شي، نو دا به يوه لوی پر شاتک وي. پر دغه پروژه د زیاتو کالونو راهيسې کار شوی دی.

## بلغاریا: د کډوالو لېږدوونکې موټر له يوې ټکسي سره ټکر شوی

مهاجرنيوز




د بلغاريا چارواکي وايي چې نن چهارشنبه پلازمېنه صوفيا کې يو موټر چې ۱۷ کډوال پکې سپاره ول له يوې ټکسي سره ټکر کړی دی. دغه پېښه کې ۱۰ تنه په سطحي توګه ټپيان شوي دي.

د بلغاريا د کورنيو چارو وزارت وايي چې نن چهارشنبه سهار وختي د صوفيا په دراګا لبوتسي سيمه کې يو موټر چې ۱۷ کډوال پکې سپاره ول له يوې ټکسي سره ټکر کړی دی. په دې پېښه کې ۱۰ تنه په سطحي توګه ټپيان شوي دي. د کورنيو چارو وزارت زياتوي چې ټپي شوي کډوال يې نږدې روغتونونو ته لېږدولي دي.

د موټر چلوونکی چې ۱۸ کاله عمر لري او له جواز يې پرته يې موټر چلاوه د امنيتي ځواکونو له خوا نيول شوی دی. د چارواکو په وينا، پېښه هغه مهال رامنځته شوه چې دغه سړي هڅه وکړه د تراکيا پر لويه لاره له پوليسو وتښتي.

د ۴۷ زرو کډوالو مخه نیول شوې

هر کال د افغانانو په ګډون زیات شمېر کډوال هڅه کوي چې له ترکیې څخه د بلغاریا پر لار خانونه اروپايي ټولنې ته ورسوي.

د بلغاریا چارواکو د رواني میاشتې په لومړیو ورځو کې خبر ورکړی و چې صوفیا ته څېرمه یې له یوه لارۍ موټر څخه تر ۸۰ ډېر افغان کډوال موندلي دي. دغه موټر چې د صوفیا پر لور روان و د تراکیا پر لویه لاره د امنیتي ځواکونو له خوا درول شوی و.

د بلغاریا د کورنیو چارو وزارت د شمېرو له مخې، د جون میاشتې له لومړۍ نېټې څخه د جولای تر ۳۱مې نېټې پورې یې له ترکیې څخه دغه هېواد ته د ۴۶۹۴۰ بې اسناده کډوالو د داخلېدو مخه نیولې ده. دا په داسې حال کې چې تېر کال په همدې موده کې له ترکیې څخه بلغاریا ته د ۲۷۰۸۳ کډوالو د ننوتو مخه نیول شوې وه .

په تېرو څو کلونو کې بلغاریا کې د کډوالو پر وړاندې د تاوتریخوالي ګڼ راپورونه خپاره شوي دي. ډېری کډوال وايي چې هلته یې شخصي وسایل غلا شوي، زندان ته اچول شوي او یا هم هغوی ته اجازه ورکړل شوې نه ده چې بلغاریا کې د پناه غوښتنه وکړي.

## پاکستان بیش از یک میلیون پناهجوی غیرقانونی افغان را اخراج می‌کند

آریانانیوز



Website: https://morr.gov.af

Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

Facebook: https://www.facebook.com/morr.gov.af2




رسانه‌های محلی پاکستان گزارش داده اند که دولت پاکستان در یک تصمیم بزرگ سیاسی درصدد اخراج یک میلیون و یکصد هزار نفر از پناهجویان افغانستان است که به طور غیرقانونی در آن کشور مقیم هستند.

کابینه دولت موقت پاکستان به مقامات ذیربط اجازه داد تا مقدمات بازگرداندن همه پناهجویان غیرقانونی افغانستان را به کشورشان فراهم کنند و این تصمیم اسلام‌آباد به اطلاع امارت اسلامی افغانستان نیز رسیده است.

در گزارش به نقل از منابع آمده است که این ۱.۱ میلیون پناهجوی افغان روادید و مدارک معتبری که به آنها اجازه اقامت در پاکستان را بدهد، ندارند. آنها همچنین ادعا کردند که بیشتر این پناهندگان غیرقانونی در فعالیت های ضد دولتی و جنایتکارانه شرکت داشته اند، بنابراین در اولین فرصت به افغانستان بازگردانده خواهند شد.

روزنامه اکسپرس تریبیون نوشته است: «از زمان بازگشت (امارت اسلامی) به افغانستان در ماه تابستان سال ۲۰۲۱، حدود ۴۰۰ هزار تبعه افغانستان به طور غیرقانونی وارد پاکستان شده اند. همچنین ۷۰۰ هزار افغانی دیگر شناسایی شده اند که به طور غیرقانونی در مناطق مختلف پاکستان زندگی می‌کنند.»

براساس این گزارش، پاکستان از چندین دهه میزبان میلیون ها پناجوه افغان بوده است و در مقطعی حتی ۵ میلیون مهاجر افغان در پاکستان اقامت داشتند. برخی تخمین‌ها حاکی از آن است که هنوز نزدیک به ۴ میلیون مهاجر افغانستان در پاکستان زندگی می کنند. با این حال، تعداد افرادی که دارای کارت پناهندگی معتبر هستند، طبق سوابق رسمی، بسیار کمتر است.

سرکوب پناهجویان غیرقانونی افغانستان از سوی پاکستان در شرایطی صورت می‌گیرد که تنش‌ها بین دو همسایه بر سر تروریسم از جمله معضل گروه تروریستی تحریک طالبان پاکستان در حال افزایش است.

هفته‌های اخیر یک هیات پاکستانی به ریاست نماینده ویژه این کشور در امور افغانستان و متشکل از برخی از مقامات نظامی و امنیتی به کابل سفر کرد و بار دیگر از امارت اسلامی افغانستان خواست تا برخورد قوی علیه عناصر ضدپاکستانی انجام داده و اجازه ندهد تروریست‌ها از قلمروی افغانستان علیه همسایگان استفاده کنند.

اقدام پاکستان برای اخراج پناهجویان غیرقانونی افغان احتمالاً با واکنش امارت اسلامی افغانستان و مهمتر از همه از سوی کمیساریای عالی پناهندگان سازمان ملل همراه خواهد بود که مخالف راهبرد بازگرداندن اجباری پناهجویان افغانستان است.

خبرنامه